DAILY
اراده
دافغان نشراتي مرکزملي خپلواکه ورځپانه

سال پنجم شماره ۱۰۵
شماره مسلسل ۹۷۲
سه‌شنبه ۱۵ حمل ۱۳۸۵ هـ.ش
۵ ربیع الاول ۱۴۲۷ هـ ق
۴ April, ۲۰۰۶

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

ولسي جرګې ته دکاري پلټنونو د اوړلو په خاطر دوزيرانو راغوښتل پيل شول

پرون دولسمشر حامد کرزی لخوا ملی شورا ته نوی وړاندې شوې کابینه دولسي جرګې دوکیلانو په وړاندې یوازې دلندې پیژندنې لپاره ټاکاره شوه دغه کابینه چې ۲۵ غړی لري سر له سبا به یو شمیر وزیران دخپلو کاري پلانونو دوړاندې کولو په موخه ولسي جرګې ته وغوښتل شي.

وړاندې تر دې چې وزیران دپیژندنې لپاره ولسي جرګې ته راشي دجرګې غړو وزیرانو ته دباور د رایې دورکولو په موخه څلور ساعته ټود بحث وکړ وکیلانو دباور درایې د ورکولو په اړه بیل بیل نظرونه درلودل یو شمیر یې ویل چې وزیرانو ته دپه ټولنیزه توګه د باور رایه ورکړل شي او یو شمیر نورو وویل چې یویو وزیر ته دې په ځانګړې توګه رایه ورکړل شي چې وروسته د ډیرو شنو پانو په پورته کولو سره پریکړه دا وشوه چې ټولو وزیرانو ته په سره سم به وزیر هم په خپل ځای کې ودریږد او د جرګې دوکیلانو لخوا یې په سړو چکچکو بدرګه کیده دوزیرانو له نومورې پیژندنې وروسته دکابینې غړی بیرته له تالار څخه ووتل او دجرګې لخوا پریکړه وشوه چې دسه شنبې په ورځ به دملی دفاع وزیر ستر جنرال عبدالرحیم وردک او دبهرنیو چارو وزیر داکتر داد فر رنګین سپتنا جرګې ته راځي او دخپلو کاري پلانونوپه اړه به معلومات ورکوي.

یک فرمانده طالب با ۲۵ تن افرادش به دولت پیوست

یکی ازفرماندهان طالبان با ۲۵ تن ازافرادش دیروزبه نیروهای دولتی پیوست.

قوماندان امنیه ولایت زابل این خبرراتائید کرد وافزود که شفیع الله فرمانده طالبان درولسوالی شملزی ولایت زابل باسلاح ها ومهمات فراوان درصف نیروهای دولتی قرارگرفت.

یو ترکي انجینیر دهیواد په جنوب غرب کې وژل شوی

د نیمروز والی دا خبره منلې چې پرون ناوخته د دولت مخالفو جنګیالیو د فراه او نیمروز د لارې په اوږدو د بکوا - دل ارام دشته کې یو ترکی انجینیر په ډزو سره وژلی او د هغه ۳ افغان ساتونکو ځخه یې یوازې وسلې اخیستې دي . په کابل کې د ترکیې سفارت تردم ګړی څه نه دي ویلی او دا لاهم نه ده روښانه چې دغه انجینیر دکومې موسسې له پاره کار کوو یوازې ویل شوي چې وژل شوي انجینیر د لارې جوړولو په موسسه کې کارکوو . د نومورې انجنیر موټر لومړی درول شوی او بیا وروسته په ډزو وژل شوی دی.

دوه مشکوک طالبان په خوست کې ونیول شول

دخوست ولایت دامنیې قوماندانۍ سرتیرو دوه مشکوک طالبان ورمه ورځ هغه مهال ونیول چې غوښتل یې دګوربزو دولسوالۍ دشیرخانو په سیمه کې یو ښوونځی ته نړدې ریموټ کنټرول بمونه والوزوی.

دخوست دامنیې قوماندانی مرستیال ډګر وال محمد زمان وویل چې دواړه نیول شوی کسان دیوې دینی مدرسې طالبان وو. ده زیاته کړه چې له نیول شوو کسانو څخه دا مهال پوښتنې کرویګنې روانې دی.

ترهغه چې قانون حاکم نشي شخصیت پرستي له منځه نه‌شي تلالی

دموقتي دورې له پیل څخه آن تر اوسه پورې له کابینې څخه نیولې تر کښته مسوولینو پورې دهیواد دوروسته پاتې والی دشرایطو دواکمنتیا تر اغیز لاندې چې څومره تاکنې شوی دارتباطاتو اوړیکو په دننه کې دسفارشونو غوښتنو او په غیر مستقیمه توګه فشارونو لاندې شوی دی او همدا وجه ده چې دهیواده په ټولو ادارو کې دوطندوستۍ لورې ته دوفاداری احساس کمزوری شوی او دخپلو شخصی او ارتباطی ګټو او پلوی دپاللو په خاطر یې دقانون په غورځولو او نه منلو سره دراز راز اداری فسادونو ستونزې رامنځته کړی دوطن او دملت پرستې د احساس او پلوی په کمزوری سره خپلو سفارشی ادارو وفاداره پاتې شوی دی. همدا وجه ده چې دخلورو کلونو په اوږدو کې لکه څنګه چې لازمه وه نه یوازې دا چې پرمختګونه رامنځته نه شول بلکې راز راز رامنځته شوو ناخوالو ددولت باور او اعتماد دخلکو په وړاندې زیانمن کړی دی خو له دې سره سره چې داساسی قانون له مخې ولسمشر کرزی ولسي جرګې ته خپل کاری ټیم جوړ او وړاندې کړ دولسي جرګې دپرونې غونډې له دې پریکړو، شرایطو او حالاتو څخه داسې څرګندیږي چې دولسمشر حامدکرزی له خوا ور پیژندل شوی کابینه به د تایید رایې را خپلې کړی دتایید درایو په اخیستلو سره دا اندیښنې رابنکاره شوی او کیږي چې ایا ولسمشر کرزی به دخپل دغه کار ټیم پواسطه دهغوی تمایل دشخصیت ، تنظیم ، ګوند ، ژبې ، سمت پرستی له لورې څخه دخپلو جدی اجراتو پواسطه را وګرزولی شي؟ ۴مخ

چهار پولیس افغان در 'حمله طالبان' کشته شدند

گزارشهای رسیده از جنوب کشور حاکی است که افراد مسلح به یک پوسته پولیس در ولایت قندهار حمله کرده و چهار تن از افراد پولیس را کشته اند.

در این حمله دست کم سه پولیس دیگر نیز زخمی شدند. مسئولان شفاخانه میرویس در شهر قندهار می گویند یکی از زخمی های این حمله در مسیر راه به شفاخانه جان داده است.

یک داکتر در شفاخانه میرویس که نام خود را افشا نکرد گفت هم اکنون سه پولیس مجروح در این شفاخانه بستری هستند که وضعیت یکی از آنها وخیم است.

مقامات امنیتی در قندهار تا حالا در این مورد واکنشی نشان نداده اند.

در همین حال قاری یوسف، فردی که خود را سخنگوی گروه طالبان معرفی می کند، مسئولیت این حمله را به عهده گرفته است.

او همچنین ادعا کرد که در این حمله شش تن از افراد پولیس کشته شده اند.

طالبان: ولسوالی چهاردره رایک ساعت درتصرف داشتیم

طالبان ادعا دارند که شب گذشته ولسوالی چهاردره ولایت غوررابرای یک ساعت تصرف کرده ودرکنترول خود درآوردند. اما والی غوربارداین ادعا میگوید که دیشب درین ولسوالی آرامش کامل حکمفرما بوده است.

محمد حنیف که خود راسخنگوی طالبان معرفی میکند به رسانه های خبری گفته است ص۴

دوه پولیس اویو مخالف جنګیالی په نادعلی کې وژل شوي

د هلمند د نادعلی ولسوال قاسم له بینوا سره د تیلفون پر لیکه د خبرو په ترڅ کې ومنله چې تیره شپه د دغه ولسوالی د چانجیر کلی ته څیرمه دیوې لنډې جګړې پر مهال ۲ تنه دولتی پولیس اویو مخالف جنګیالی وژل شوی دی او ۲ تنه نور پولیس تپیان شوي. ده وویل جګړه هغه وخت رامینځ ته شوه چې مخالفو جنګیالو د ولسوالی دیو اړوند کلی په لاره کې د ماینونو په خنډولو بوخت وو. قاسم وایي یو مړی او دریموټ کنټرول دوه بمونه د جګړې پر میدان له مخالفینو څخه پاتې دي.

د نوې کابینې په اړوند د هیوادوالو نظریې

د ارادې ورځپاڼې په دې ګڼه کې مو پارلمان ته دولس مشر حامد کرزي له خوا د کابینې وړاندې شوې لست په هلکه د نظریاتو د خپرولو په لړکې د کابل پوهنتون د سیاسي علومو له پخوانۍ استاد د ښاغلي او روزنې له پخوانۍ وزیر او د افغانستان د مطالعاتو د مرکز رییس پروفیسور رسول امین سره مرکه کړې چې د محترمو لوستونکو پاملرنه ورته را اړوو. ناپاند



پوښتنه: محترم استاذ! پدې تیرو ورځو کې چې ولسمشر کرزي پارلمان ته د خپلې کابینې لست وړاندې کړی دی تاسو د دغه لست له مخې د کابینې دوزیرانو وړتیا څنګه ارز یابي کوی؟

ځواب: پرروانو پیچلو شرایطو کې دغه کابینه کې د کرزي صاحب له خوا وي یا دبل چا له خوا هغه مجبور دی چې د افغانستان دننه او د باندې د واقعیتونو له مخې همدغه شان کابینه جوړه کړي هرڅوک چې دي هغه باید چې ټول واقعیتونه په نظر کې ونیسي دلته مختلف سیاسي ګوندونه تنظیمونه، د خوښۍ او نا خوښۍ ذوق په بله وینا داخلي او خارجي سفارشونه وجود لري.

زه خو د کابینې ځینې غړي نه پیژنم ځینې چې پیژنم او ماته معلوم دي، زما په نظر هغه لږ یا ډیر تعلیم یافته دي ځینې پکې دکار کولو پوره توان لري زما په نظر کرزي صاحب دخپل ځان لپاره ټیم جوړکړی، دغه ټیم باندې باورلري او پخپله وړاندې پوهیږي چې دغه ټیم به ورسره همکاري کوي. د کابینې غونډې د جمهور رییس په مشرۍ جوړیږي زمونږ ټولې سیاسي موسسې د تکامل په حالت کې دی یا د پښتو په اصطلاح ایله په پښو ولاړ دی او ځینې د خارپوسو په حالت کې دي.

دلته د ګوندونو په ځای ډله ییزه شورا ده، یا به د شورا ټول غړي د کابینې ټول غړي تایید وي او که د کابینې په هر غړي خبرې کیږي نوزما په نظر په دغه ډله ییزه شورا کې د شخص په استعداد پوهه او تعلیم به خبرې نه کیږي چې دغه شخص د افغانستان لپاره څومره ګټور دی بلکې دهرې ډلې غړی به په دغه شخص دا فکر کوي چې دغه شخص دهغوی شخصي ډلې څومره وفادار دی، دغه طرز فکر دیوې خوا د کابینې د تائید موده شاته غورځوي او له بلې خوا هغه شخص چې دیوې ډلې سره ارتباط نلري ولو که تعلیم یافته او ګټور وي د مختلفه ټاپو دلږولو په نتیجه کې د ګډاوړوسره مخامخ کیږي او منلو چانس یې ډیر لږ دی. که اجرائي قوي دمقننې قوي دمخکې نه د ټولې کابینې دغړو په تائید موافقه کړي وي نوښه کار دی او که موافقه یې نه وي کړی شاید دنه موافقي له املې جنجالونه منځ ته راشي.

پوښتنه: پدې لست کې ۱۵ پخواني وزیران دي خو دخلکو انتقادونه د دوی په کړنو او اجراتو باندې زیات دي. وائي چې دوی پخپل وخت کې هغه مسوولین دکار جوګه نه وو لیږي نه کړای شول. که چیرې بیا وټاکل شي دخلکو انتقادونه به پخپل ځای پاتې نشي؟

ځواب: زما په نظر دخلکو او منورینو غوښتنه یو واقعیت او دځینو ډلو تسلط بل واقعیت دی. زه به دلته مهالې اداري په دوران کې خپله اوږده تجربه په لنډ ډول عرض کړم. دمعارف د وزیر په حیث دراتګ نه مخکې استاذ رباني فرمان صادر کړی و او ددغه فرمان له مخې د ۱۳۷۵ کال تشکیلات واپس نافذ شوي وو. د ۱۳۷۵ کال تشکیلات داستاذ رباني تشکیلات وو. په دغه تشکیلاتو کې داستاذ رباني او دهغه داتحاد پرسونل ځای په ځای شوی و. ددغه تشکیلاتو له مخې دجهاد او مقاومت په نوم تعلیم یافته وو او که بې تعلیمه محض دملګرتیا او وفاداری له مخې پخواني ځو کې بینا ونیولې. په کابینه کې ګوندې تنظیمي او مستقله اشخاصو وجود درلود. په مستقله اشخاصو کې ځینې هوښیار او ځینې زما غوندې ساده وو. هوښیارانو دډلو دمشرانو خبرې منلې او زما غوندې ساده وو په اداره فکر کاوو. ما داداري دفعاله کولو په نیت ځینې تعلیم یافته اشخاص دهغوی دتجربو له املې دځینو پوستونو درییسانو په توګه د دولت رییس ته پیشنهاد کړل او دمعارف په وزارت کې مقرر شول. د دغې سادګۍ په وجه له لوی جنجال سره مخامخ شوم. د واکمنې ډلې نشراتي اورګانونو، غړو اوشبکو زما په ضد تبلیغات شروع کړل چې په نتیجه کې شبکو ددولت رئیس هم په دې قانع کړو چې دمعارف وزیر یو نامطلوب شخص دی له بلې خوا هوښیارو مستقلو وزیرانو، پخپلو وزارتونو کې پرسونلو کې ګوتې ونه وهلې او هغوی د وطندوستانو په القابو مفتخر شول. د اهل کار په مقرریدو او د «جهاد او مقاومت» دځینو خلکو په لیرې کیدو کې ډیرې ستونزې دي او تر اوسه روانې دی. زما په نظر هوښیار وزیران دا کار نه کوی، هغوی دغه خطر سره مخامخ کیدل نه غواړی.

تاسو پخپله فکر کولای شی چې اداره او شبکې دچا په لاس کې دی یو وزیر به څنګه اجرات وکړی چې نا اهله دي وباسي او اهل کار دي راولی. په افغانستان کې دسفارش، رشوت اودمسلطو اشخاصو سره دارتباط او دو فاداری زړه اداره ده که دوزیر زړه غواړی چې دده دوزارت زړه اداره دې نوی شي دغه زړه اداره هغه بدلون ته نه ولاړ د شخص پرېږدي ځکه چې دزړې اداري پلویان قوی او ستر اشخاص دي.

پوښتنه: ځینې په دې اند دی چې وزیران باید سیاسي وي ځینې وایی چې باید مسلکی او سیاسي وی او ځینې یواځې مسلکی توب خواته پله درنوی. په دې هکله ستاسو نظر غواړم؟

ځواب: وزارت سیاسي پوسټ دی. دا دجمهور رئیس اویا صدراعظم خوښه ده چې سیاسي شخص تاکی. یې سیاسي مسلکی اویا یوازې مسلکی. په پارلمانې ډیموکراسی کې خلک ګوند او دګوند مشر ته رایی ورکوی اودخلکو په رایی باندې پارلمان ته دګوند غړی راځی. که مطلق اکثریت واخلی دګوند مشردصدراعظم په حیث دخپل ګوند ځخه کابینه جوړوی. او که له نورو ګوندونو څخه په پارلمان کې زیاتې چوکۍ وګټې او مطلق اکثریت نه وی نو په داسې شرایطو کې دیو یا ډیرو ګوندونو سره ائتلاف کوی او وړوکی یا وړوکو ګوندونو ته وزارتونه ورکوی.

په ریاستی جمهوریت کې جمهور رئیس اومرستیال یا مرستیالان یو ځای د خلکو له تاکل کیږي او یا وروسته دکابینې غړی تاکل کیږي. په دکتاتوری او نظامی سیستمونو کې اکثره پخپلو باوری ملګرو اعتماد کیږي او دا ددغو رژیمونو په سر کې ځواک چې دقوی او مسلطو اشخاصو خوښه ده چې څوک تاکی دهغوی خخه تش په نامه پارلمان او نور خلک پوښتنه نشي کولای.

پوښتنه: ډیر خلک په دې اند دی وایی کرزی صاحب دکورنیو او بهرنیو فشارونو او پیشنهادونو له املې خپله کابینه جوړه کړې ده په دې هکله ستاسو نظر څه دی؟

ځواب: ما مخکې درته اشاره کړې ده چې په کابینه کې داخلی او خارجی دواړه عوامل وجود لري. زما په نظر دیر هیوادونه شته چې دهغوی دګوندونو اوشخصیتونو په جوړیدو کې خارجی ملاتړ له ورایه ښکاري. هغه باندنې هیوادونه چې په یو ګوند یا په یو شخص سرمایه ګزاری کوی دغه ګوند، دګوند مشر یا شخص به حتماً دسرمایه دار خبره مني او کابینه چې دهیواد سیاسي، اقتصادی، اجتماعی، کلتوري، نظامې اونورې ټولې چارې احتوا کوی نو سرمایه دار حکومت حتماً پکې لاس لري او حتماً به پکې دسرمایه دار خوښه ا وناخوښه شامله وي داسې خونشې کیدای چې توره دې لالاوهی او مړۍ دې عبدالله وهی.

افغانستان په وروسته پاتې هیوادونو کې وروسته پاتې هیواد دی. دډلو ټپلو دمشرانو سفارشونه شخصی خوښه ناخوښه اوډیر شیان پکې ځای لري. ځوک چې دقوی او مسلطو اشخاصو، ګوندونو او تنظیمونو وفادار غړی دی دوی دخپلوانو مشرانو دقوت او سفارش په اساس وزیر یا وزیران کیږي ځوک چې په اصطلاح د وفاداری سابقه نه لري نو دغه بیچاره هره دروازه ټکوی چې دوزارت ګدی خپله کړی.

پوښتنه: خلکو زیات انتقادونه په برحالو وزیرانو کول او اوس په لست کې نوې ځیرې هم شته. دا به ومنو چې کرزی صاحب به دفشارونو خبره ونه منی اما فشار وجود لري.

کرزی صاحب باید داسې وزیران تاکلی وای چې دخلکو انتقادونه وړاندې نه وی په دې باره کې ستاسو نظر څه دی؟

ځواب: افغانستان په سیاسي، ایدیالوژیکی او په نوروډیرونظریو ویشل شوی دی. دشوروی اتحاد نه نیولې ډیرو ګاونډیانو او باندینو هیوادونو افغانی ټولنه ټوټې ټوټې کړی. مونږ د پرمختللو هیوادونو په شان پخپل دولت او ملت لږ فکر کوو بلکه بر عکس خپل ځان، پخپله کورنۍ، پخپل ګوند، پخپل تنظیم او پخپلو دوستانو او خپلوانو ډیر فکر کوو. ددولت او ملت دشعور پراو ته رسیدل وخت غواړي. که چیرې یو وزیر یو ګوند ته دمنلو وړ وی نو بیا نور وړاندې انتقادونه کوي زما په نظر دخلکو او منورینو انتقادونه هم وارد دی او هم د افغانی ټولنې د اوسنیو شرایطو له مخې انتقادونه ځای نه نیسي.

که دقوی او مسلطو اشخاصو دانتقاد دلاندې راشي نو بیا ددغو اشخاصو انتقاد انتقاد دی او هغه څوک چې ددوی دانتقاد لاندې وی دهغوی انتقاد ته څه ارزښت نه ورکول کیږي.

۴مخ

متصدی: نرگس

زن را، مادر را، ستایش کنیم!

افغاني پيغله، فرحناز يوسفي، د موسيقۍ په سيالۍ کې



که څه هم په ټولنه کې له نارينه وو سره د خپلو حقوقو د اندول لپاره د ميرمنو په وړاندې ډيرې ستونزې پر ځای پاتې دي خو د ډاکټر نجيب الله له واکمنۍ وروسته دا لومړی ځل دی چې يوه افغانه پيغله د موسيقۍ په سيالۍ کې د زر تنو ځوانانو ترمنځ پنځم ځای خپلوي او ددې په وينا د زياتو ګواښونو سره سره د موسيقۍ په يوې سختې سيالۍ کې ګډون کوي.

۱۷ کلنې فرحناز يوسفي د هيواد په پلازمينه کابل کې د موسيقۍ په يوې ټولیزې سيالۍ کې د زر تنو ځوانانو له منځه د «غوره افغاني پيغلې» نوم تر لاسه کړ.

دا د مزار شريف اوسيدونکې ده. يوسفي په ټولنه کې د ميرمنو په وړاندې پراته خنډونه او ديوالونه مات کړل او د سلګونو نتدارچيانو په وړاندې د سټيج پر سر راڅرګنده شوه او په يوه سيالۍ کې يې د نه يواځې ښځو بلکې نارينه وو هغو هم ونشو کړای چې دتنه په هيواد کې خپل هنر وښيي. د موسيقۍ په وړاندې د طالبانو د سخت دريځ اغيز د هغوی د واک د نسکوريدو وروسته هم له افغان ميرمنو دا جرت واخيست چې د سلګونو نتدارچيانو په وړاندې خپل هنر وښيي. خو فرحناز يوسفي د ويرې دغه ځنځير مات کړ.

يوسفي B.B.C ته په دې اړه وويل:

«د يوې افغان پيغلې په توګه چې پر سړک ګرځېدم، د ځنې خلکو فکرونه بيل دي. له بدو خبرو چلنډونو سره مخامخ کېدو. احساس مې دا و چې افغاني پيغلې او ميرمنې په هيواد کې هيڅ وړنده نه لري. ګواښونه هم راته وشول. نه يې غوښتل چې يوه افغانه ميرمن دې په داسې يوه سيالۍ کې وړنده واخلي. دا يې بده ګڼله.»

دې بدلون ته په پام سره ډير افغانان په دې اند دي چې له کلونو کلونو جګړو او بندیزونو څخه وروسته افغان ميرمنو د ژوند په هر ډګر کې د پرمختګ وس پيدا کړی دی.

د فرحناز مور او پلار هم ددغو ستونزو يادونه وکړه خو ټينګار يې داو چې نه غواړي ښځينه ماشومان يې د ټولنې د ډيرو نورو وګړو په څير يواځې د کور په پخلنځي کې کار وکړي.

په کورنيو کې دښځو په وړاندې له خشونت او زور زياتي څخه ډکه فضا ډيرې ښځې دې ته مجبورې چې دمهربانۍ تعويذونو ته مخه کړي چې دمقابل لوري دمهربانۍ په خاطر خپل روحي تسکين تر لاسه کړي

زمونږ د هيواد اکثريت ښځې له خپلو حقونو څخه خبرې نه دی

زمونږ په هيواد کې برخې کې دښځو متخصص داکتر. کابو هر کال ۷۵۰ ښځې دلنګون پر مهال مړی اوپه ماشومانو کې له هر و پنځو څخه يوه تر اوه کلنۍ دمخه مړی اوله دې پرته هر کال ښځې دبيلابيلو عواملو له املې په ډول ناروغيو اخته کيږي چې زياتې په کې په روحی او توبر کلوز ناروغی اخته دی.

دښځو چارو وزارت هم تر اوسه پورې ونه شو کړای چې دښځو په وړاندې موجوده ستونزې او بنديزونه ليرې کړی.

لازمه داده چې دولت اوپه تيره بيا دښځو چارو وزارت تر مرکز زيات په کليوالو سيمو کې کار وکړی ځانګړی ګروپونه جوړ کړی دملا امامانو او مخورو په مرسته نارينه وو سره اصلاحی غونډو ته سازمان ورکړی اوپه هر ګروپ کې يو ملا هم ګډون ولري اوله دې پرته يوازې په ټولنې کې دشريک ژوندانه په مفهوم ښارونو کې هغه نسبی برياوی چې ښځو ته دحقوقو په باره کې ورکړل شوی دی دهيواد دتولو ښځو دحقوقو په باره کې کافی نه بلل کيږي او ويلای شو چې زمونږ دهيواد اکثريت برخه تر اوسه پورې نه يوازې دا چې له خپلو حقوقو څخه برخمنه شوی نه ده په خپلو حقوقو هم نه پوهيږي.

زمونږ په هيواد کې برخې کې دښځو متخصص داکتر. کابو هر کال ۷۵۰ ښځې دلنګون پر مهال مړی اوپه ماشومانو کې له هر و پنځو څخه يوه تر اوه کلنۍ دمخه مړی اوله دې پرته هر کال ښځې دبيلابيلو عواملو له املې په ډول ناروغيو اخته کيږي چې زياتې په کې په روحی او توبر کلوز ناروغی اخته دی.

دښځو چارو وزارت هم تر اوسه پورې ونه شو کړای چې دښځو په وړاندې موجوده ستونزې او بنديزونه ليرې کړی.

کورنۍ لرو چې خپل ښځينه اولادونه ښوونځيو ته نه پريږدی اود وخت په دې شرايطو کې چې کابو په هر قريه کې ورته دانجونو ښوونځی جوړ شوی دی خوانجونې له درس څخه بې برخی دی.

لا اوس هم انجونې دې برخه يې انجونې دی خو لا اوس هم داسې کورنۍ لرو چې خپل ښځينه اولادونه ښوونځيو ته نه پريږدی اود وخت په دې شرايطو کې چې کابو په هر قريه کې ورته دانجونو ښوونځی جوړ شوی دی خوانجونې له درس څخه بې برخی دی.

لا اوس هم انجونې دې برخه يې انجونې دی خو لا اوس هم داسې کورنۍ لرو چې خپل ښځينه اولادونه ښوونځيو ته نه پريږدی اود وخت په دې شرايطو کې چې کابو په هر قريه کې ورته دانجونو ښوونځی جوړ شوی دی خوانجونې له درس څخه بې برخی دی.

لا اوس هم انجونې دې برخه يې انجونې دی خو لا اوس هم داسې کورنۍ لرو چې خپل ښځينه اولادونه ښوونځيو ته نه پريږدی اود وخت په دې شرايطو کې چې کابو په هر قريه کې ورته دانجونو ښوونځی جوړ شوی دی خوانجونې له درس څخه بې برخی دی.

د نوې کابینې په اړوند...

که چیرې دیو هیواد مشر په اقتصادی او سیاسی لحاظ پخپلو پښو ولاړ وی، ددغه هیواد مشر قاطعیت لري. وایی «چې دا زما ټیم دی پخپله خوښه مې جوړ کړی دی او زه په دې برخه کې دچا فشار او سفارش نه منم. زه دخپل ټیم دښو او بدو مسوولیت په غاړه اخلم اوبس.» په وروسته پاتې هیوادونو کې دا قاطعیت اومقاومت نشي کیدلای.

پوښتنه: دا یو واقعیت دی چې هر تنظیم په یوه وخت کې زیات هیوادوال په خنګ کې درلودل او اوس هم ځینې ورسره دي. دخلکو تنقید په تنظیمي وزیر نه دی بلکه دخلکو انتقاد په کار نه کولو دی. دغه وزیران دخلکو غوښتنې سرته رسولای شي او که نه؟

ځواب: مخکې ورته اشاره وشوه چې هغه وزیر چې مسلکی سیاسي شخص وی هغه دتنظیم په ځای په هیواد، دولت او ملت فکر کوی او خپله ورسپارل شوی دنده په علمی توګه پرمخ بیول غواړي. که دغه وزیر پخپل وزارت کې کاري ټیم ونلري او خپله اداره نشي اصلاح کولای دهغه نه ګله کول ښه کار نه دی. او هغه وزیر چې تنظیمی اړیکې لري هغه دخپل تنظیم وفاداری سرته رسوی. دا اوس دلمر غوندې څرګنده ده چې تنظیمی وزیرانو خپل تنظیمي او کورنۍ اشخاص که پوهیږي او که نه پخپلو وزارتونو کې راټول کړی دی. البته په تنظیمی وزیرانو کې هم ډیر لږ داسې شته چې هغه یا هغوی د ځانونو داثبات لپاره څه ناڅه کړی دی.

مورږ دتیرو څوکلونو ترخه تجربه لرو. یو ګوند یا تنظیم چې سیاسي قدرت ترلاسه کړی دی دغه ګوند یا ګوندونو د نورو تنظیمونو اوګوندونو پرسونل د اداري څخه شړلي دي او پخپله یې ددولت په ارګانونو قبضه افغانستان تر خپل تسلط لاندې راولي. دغو باندنیو ته پخپله افغانانو لاز خلاصه کړې ده. دغه ستونزې په لاندې ډول خلاصه کیدای شي.

اول: هر ګاونډی هیواد خپلې ډلې په سیاسي، اقتصادی او نظامي لحاظ پیاوړی کولې.

دویم: دقدرت خاوندانو ډیرې پیسې، وسلې او نظامي قدرت درلود. په دې منډه کې ډیرو کوشش کاوه چې خپلې پیسې او سیاسي قدرت لاپسې زیات کړي.

دریم: ډیرو فکر کاوه چې هغوی دې په یوه شپه ملیاردر شي په افغانانو کې مادې حرص دې حد ته ورسید چې ورور وژنې دوام پیدا کړ او ډیرو دنامشروع لارې دپیسو په هڅه کې شول.

څلور: ددولت پرسونل او په خلکو قابض اشخاص خپل لاس لاندې رعیت ګڼلې او داسې په سلګونه فسادونه. تاسو پوهیږئ چې دولس سره دمنطقی ولسوال، والي او نور اداري پرسونل مراوده کوی او همدغه اشخاص دجمهور رئیس او وزیرانو نماینده ګان دي. زما په نظر په اوسنیو شرایطو کې دوزیرانوپه ځای ددولت دارګانونو پرسونل ډیر اهمیت لري تر څو چې زمورږ اداره معاصره اداري په بڼه منځ ته رانشي تر هغې به دغه ستونزې دوام کوي.

پوښتنه: اوس مهمه مسئله دتخصص اومدیریت ده. دخلکو تنقید دادی چې دغه وزیران تخصص لري خو مدیریت یې کمزوری دی مربوطه ادارو ترینه سر اخیستی دی،قانون نشته خو بیا هم وزیران دی په دې هکله که ستا په نظر پوه شم؟

ځواب: تاسو دیو ژورنالست په حیث وزارتونو ته ولاړشي دټولو وزارتونو پرسونل وګوری چې دا خلک دتخصص په اساس راغلی دی او که دتنظیمی روابطو په اساس. بیا تاسوپه اطرافو کې د ولسوال او دهغه دپرسونل د والي او دهغه دپرسونل پوښتنه وکړئ چې په دوی کې څومره تنظیمی پرسونل دی او څومره دتخصص له مخې راغلی دی.

لکه مخکې چې ورته اشاره وشوه چې ددولتی ارګانونو اشخاص دمشروع او یا غیر مشروع لارې ځای په ځای شوی دی ایا دوی دځانه زیات په دولت فکر کوي؟ تاسو به ډیر لږ خلک وګورئ چې دولت او ملت ته دخدمت شعوری سطحې ته رسیدلي وی. دلته ماته یوه کیسه په یاد شوه وایی چې یو شخص په یو مهم پوست کې کار کاوه. دغه شخص رشوت خور. چا ترینه پوښتنه وکړه چې «تاسو رشوت خور؟» دغه شخص ورته وویل «ما رشوت خور خو له بدغه مرغه څه وخت چې دچور دوره راغله زه یې تقاعد کړم.» یو والی یا ولسوال او ددوی پرسونل تنظیمی دی یا بې تنظیمه دوی خلک دپخوا په شان خپل نوکران ګڼي، که تعلیمیافته وی بیا بې تعلیمه دوی دتنظیمونو مشرانو په سفارش یادنورو لارو په هغو پوستونو کې ځانونه مقرره وی چې هلته دوی پریمانه چور وکړای شي.

تاسو پخپله پوهیږي چې په وروسته پاتې او پرمختللو هیوادونو کې اداره له حده زیات اهمیت لري او په دغو هیوادونو کې دمختلفه چارو لپاره د اداری په نوم اکادمی جوړې شوی او په دغو موسسو کې اداره چیان روزل کیږي. اداره چې په دې پوهیږي چې دولت، ملت اوټولنه څه ته وای او دټولنې دخلکو سره څنګه مراوده کیږي اداره چې ددولت سره ارتباط لري. هر څوک چې دوزیر په حیث سیاسي پوست ترلاسه کوی او اداري پرسونل د خپل وزیر سره د یو همکار ټیم په حیث کار کوي او نه د وزیر د چاپلوس په حیث، جوته ده چې اداره هم تعلیم یافته او هم په خپل کار کې تخصص او تجربه لري هغه ددولت د یو ارګان دغړی په حیث خپلې دندې ته دوام ورکوي. وزیر هغه ته درتبې په لوړولو کې مکافات ورکولای شي اما دخپلې خوښې په اساس هغه موقوفولای شي نشي. دده دموفیدو واک دمستقلې اداري دکمیسیون سره ارتباط لري.

شاید چې په افغانستان دزړې اداري بدلون څه وخت واخلي لیکن دغه پروسه اوس پیل کیدل غواړي. که مورږ پرې نه پوهیږو باید له هغو وروسته پاتې او پرمختللو هیوادونو نه داداري متخصصانو مرسته وغواړو چې زمورږ په کلتوري شرایطو پوه دی او زمورږ غوندې پخپلو هیوادونو کې دتجربې څخه ټیر شوی دی د روزل شوو اداره چیانو نه وروسته بیا تاسوو ګوری چې هیواد څه ته وایی دولت څه ته وایی، ملت څه ته وایی او دخلکو خدمت او قانونیت څه ته وایی، ډیموکراسی، ازادی، پرمختګ، وحدت، کار، کور درلودل او نور شیان څه ته وایی.

شاید چې زمورږ دخوب تعبیر څه وخت وغواړی خومشکل کار نه دی اوپه اداره کې بنیادي بدلون ته داداري اکادمی ضرورت دی مورږ بایدپه دې مهم کار ډیر تاکید وکړو.

ستاسو له مرکې څخه ډیره مننه.

تر هغه چې قانون حاکم نشي....

ایا دغه کاری ټیم به چې د اولس له انتقادونو او نیوکو سره سره ولسمشر باور او اعتماد پرې کړی دهیواد پرستی احساس را پیدا کړي او که حالات به همداسې دنابودی په لوري روان پریږدي داولس ددغو اندیښنو دله منځه وړلو او د ولسمشر د باور او اعتماد د بیرته رامنځته کولو لپاره یوازینی لاره دقانون په چوکاټ کې دنوی کابینې جدیت، قانون ته وفاداری، له تمایلاتو او اړیکو څخه ځان ایستل او ملت ته درناوی دی خو وګورو چې ولسمشر حامد کرزی خومره دخپل دغه کاری ټیم تمایلات دملت او قانون خواته اړولی شي.

افغانستان بانک:
دسړي سر کلنی عایدزیات شویدی

د افغانستان بانک د هیواد ویل چې د انفلاسیون د ولسمشر ته په یو راپورکې پیسو د ارزښت ټیټیدل او دبیو لوړیدل) د مخنیوي په برخه کې یې هم بریالیتوبونه درلودل هغه ویلي چې تیر کال د انفلاسیون کچه په سلو کې ۱۰ وه ، د خوراکي شیانو بیې ټیټې وي خود تیلو بیه لوړه وه ولسمشر ، حامد کرزي ، په خپلې انتخاباتي تګلارې کې ویلي وو چې د خپل حکومت په ۵ کلنې دورې کې به د هیواد د خلکو د سړي سر کلنی عاید ۵۰۰ ډالرو ته لوړ کړي

د هیواد د سړي سر کلنی عاید لانور هم زیات شي او ۳۳۵ ډالرو ته به ورسیږي

په دغه راپور کې ویل شوي چې تیر کال د هیواد اقتصادي وده په سلوکې ۱۴ وه چې دتیر کال په پرتله په سلوکې ۲ زیاته شویده

د مرکزي بانک مشر داهم وایي چې په تیرو ۲ کلونو کې دسړي سر کلنی عاید ۹۳ ډالره زیات شویدی

راپور وایي چې په ۱۳۸۲ لمریز کال کې د افغانستان د خلکو د سړي سر کلنی عاید ۲۰۰ ډالره وو چې په ۱۳۸۴ کال کې ۲۹۳ ډالرو ته زیات شویدی

د افغانستان د مرکزي بانک رییس ، نورالله دلاوري ، ولسمشر کرزي نه د یو وروستي راپور په ترڅ کې ویلي فکر کوي چې په ۱۳۸۵ کال کې به د هیواد د سړي سر کلنی عاید لانور هم زیات شي او ۳۳۵ ډالرو ته به ورسیږي

په دغه راپور کې ویل شوي چې تیر کال د هیواد اقتصادي وده په سلوکې ۱۴ وه چې دتیر کال په پرتله په سلوکې ۲ زیاته شویده

د مرکزي بانک مشر داهم وایي چې په تیرو ۲ کلونو کې دسړي سر کلنی عاید ۹۳ ډالره زیات شویدی

راپور وایي چې په ۱۳۸۲ لمریز کال کې د افغانستان د خلکو د سړي سر کلنی عاید ۲۰۰ ډالره وو چې په ۱۳۸۴ کال کې ۲۹۳ ډالرو ته زیات شویدی

د افغانستان د مرکزي بانک رییس ، نورالله دلاوري ، ولسمشر کرزي نه د یو وروستي راپور په ترڅ کې ویلي فکر کوي چې په ۱۳۸۵ کال کې به د هیواد د خلکو د سړي سر کلنی عاید لانور هم زیات شي او ۳۳۵ ډالرو ته به ورسیږي

په دغه راپور کې ویل شوي چې تیر کال د هیواد اقتصادي وده په سلوکې ۱۴ وه چې دتیر کال په پرتله په سلوکې ۲ زیاته شویده

د مرکزي بانک مشر داهم وایي چې په تیرو ۲ کلونو کې دسړي سر کلنی عاید ۹۳ ډالره زیات شویدی

راپور وایي چې په ۱۳۸۲ لمریز کال کې د افغانستان د خلکو د سړي سر کلنی عاید ۲۰۰ ډالره وو چې په ۱۳۸۴ کال کې ۲۹۳ ډالرو ته زیات شویدی

د افغانستان د مرکزي بانک رییس ، نورالله دلاوري ، ولسمشر کرزي نه د یو وروستي راپور په ترڅ کې ویلي فکر کوي چې په ۱۳۸۵ کال کې به د هیواد د خلکو د سړي سر کلنی عاید لانور هم زیات شي او ۳۳۵ ډالرو ته به ورسیږي

په دغه راپور کې ویل شوي چې تیر کال د هیواد اقتصادي وده په سلوکې ۱۴ وه چې دتیر کال په پرتله په سلوکې ۲ زیاته شویده

د مرکزي بانک مشر داهم

طالبان: ولسوالی چار دره...

که افراد این گروه شب گذشته ولسوالی چهاردره ولایت غوررا حوالی ساعت یک پس ازنیمه شب تصرف کرده اند واین ولسوالی رایک ساعت زیرکنترول داشته اند وسپس ساختمان ولسوالی رابه آتش کشیده وآنراترک گفته اند. اما قدیراحمدعلم والی غورادعا سخنگوی طالبان را تکذیب کرد

ERADA Daily

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)
Composed & designed by : sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)
eradadaily@hotmail.com

اراده

زیرنظرهیات تحریرانتشار میباید
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : سهراب دیدار
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان
سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
تیلفون موبایل : ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد شاه "وحدت"
چاپ:مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یک شماره ۳ افغانی